1

# بسم الله الرحمن الرحيم

# په ښوونیز نظام کې د ارزونې اغیزې او ننګونې

## علمي – څېړنیز کنفرانس

وړاندې کوونکی: څېړندوی ثناءالله صالحي

# سریزه

ارزونه د ښوونې او روزنې له بنسټیزو ستنو څخه ده چې د زده کړې د کیفیت تضمین، د تدریس اغېزمنتیا، د زده کوونکو د واقعي پرمختګ معلومولو او د ښوونیزو پرېکړو د سمون لپاره اساسي رول لري.

په معاصرو ښوونیزو نظامونو کې ارزونه یوازې د ازموینو اخیستلو یا د نمرو د ورکړې وسیله نه ده، بلکې یوه دوامداره، منظمه او علمي پروسه ده چې د تدریس له پیل سره هم مهاله جریان لري او د زده کړې د اصلاح لپاره کره معلومات برابروي.

ادامه...

په ډېرى ښوونځيو کې ارزونه تر ډېره نهايي، نمره محوره او حافظه محوره ده.

دا څېړنه د ښوونيز نظام په چوکاټ کې د ارزونې نظري بنسټونه، عملي اغېزې او اساسي ننګونې په تفصيلي ډول څېړي او د کمي احصائيوي شواهدو پر بنسټ د اصلاح لپاره علمي وړانديزونه وړاندې کوي.

# د څېړنې مبرمیت او هدف

**مبرمیت:** د معیاري ارزونې کمزوری تطبیق او نمره‌محور چلند د ښوونیز کیفیت پر بهیر منفي اغېز لري؛ له همدې امله د ښوونیز نظام د اصلاح لپاره دا څېړنه مبرمه ده.

**هدف:** د دې څېړنې موخه په ښوونیز نظام کې د ارزونې د اغېزو او ننګونو تحلیلول دي.

# د څېړنې پوښتنې

۱. ښوونیزه ارزونه په ښوونیز نظام کې څومره اغېز لري؟

۲. د افغانستان په ښوونیزه ارزونه کې شته ننګونې ښوونیز نظام څومره تر اغیز لاندې راولي؟

# د څېړنې میتود

دا څېړنه د هدف له پلوه تطبیقي او د میتود له مخې توصیفي ـ تحلیلي ده. څېړنه د کمي (Quantitative) طریقې پر بنسټ ترسره شوې ده.

**فرضیه:** په ښوونیز نظام کې ارزونه ډېر اغیز لري، خو د ننګونو په شتون کې یې اغیز محدودیږي.

**نظري چوکاټ - د CIPP ارزونې ماډل:** دا څېړنه د سټافلبیم د CIPP ارزونې ماډل پر بنسټ ولاړه ده:

**چاپېریال (Context):** د ښوونیزو پالیسیو، اداري جوړښتونو او ټولنیزو شرایطو ارزونه.

**ورودي (Input):** د ښوونکو مسلکي وړتیاوې، درسي مواد او ارزونې وسایل.

**بهیر (Process):** د تدریس او ارزونې د تطبیق څرنګوالی او فیډبک.

**محصول (Product):** د زدهکوونکو د زدهکړې پایلې او د ښوونیز نظام کیفیت.

دا چوکاټ د ارزونې د اغېزو او ننګونو د تحلیلي څېړنې لپاره یو مناسب نظري بنسټ برابروي.

# د څېړنې شالید

**۱. اندازه گیري، سنجش و ارزشیابی آموزشی:** سیف ، ۱۳۸۷، په دې کتاب کې ارزونې ته په نږدې اصطلاحاتو لکه ( سنجش، ارزشیابی، اندازه گیري او آزموینه) بحث شوی.

**۲. Educational Assessment of Students:** نیتکو انتونی جی له لوري په ۲۰۰۱ لیکل شوی، ۵۲۸ مخونو کې میرل پرنټس هال چاپ کړی. د ده له نظره، اغېزمنه ارزونه باید د کمي او کیفي لارو ترکیب ولري او د زده کوونکو واقعي پوهه او مهارتونه منعکس کړي.

په افغانستان کې ترسره شوې محدودې څېړنې ښيي چې د ارزونې عملي بهیر تر ډېره نمره‌محوره او پایله‌محوره پاتې شوی دی. څېړنې ښکاره کوي چې په ښوونیزو بنسټونو کې ارزونه تر ډېره د قضاوت وسیله ګڼل کېږي او د زده‌کوونکو د مهارتونو او ژورې پوهې ارزونه پکې کمه ده (Musakhel, 2019 ).

# د ښوونيزې ارزونې تعريف

ارزونه په لغت کې مواظبت، حمايت او ښوونيزې مرستې ته ويل کيږي او په اصطلاح کې «ارزونه هغه عمليه ده چې هدفونو ته د رسيدو اندازه معلوموي» (الهام، ۱۳۷۴. ۱۰مخ).

شاه آغا «مجددي» « ارزونه هغه جريان دی چې د هغې پر واسطه يو شخص کوښښ کوي چې د تدريس او زده کړې د عمليې کيفيت او کميت اندازه کړي او د همدې هدف لپاره د اروزنې د مختلفو ډولونو څخه استفاده کوي»(مجددي، ۱۳۸۸. ۱مخ).

همدارنګه «سيف» په خپل کتاب کې د ښوونيزې ارزونې په هکله د دوو بهرنيو پوهانو ( ورتن worthen، او سندرز sanders) نظريې داسې رانقلوي: « په ښوونه او روزنه کې ارزونه دهغه رسمي فعاليت نه عبارت دی چې د يو پروګرام، پروژې، هدف، فعاليت او يا د يوه درسي پروګرام د کيفيت ټاکلو او يا د هغې د اغيز او ارزښت معلومولو لپاره ترسره کيږي»

## د ارزونې اړوند اصطلاحات

**ارزشيابي (ارزښتموندنه):** ارزښتموندنه په لغت کې د فکر، سنجش او محاسبې په مانا سره راځي او اصطلاح کې ارزښتموندنه د ارزونې په نسبت يوه عامه عمليه ده چې د ټول پروګرام په هکله هر اړخيز معلومات راټولوي، ترڅو په راتلونکی کې لازم او مناسب تصاميم ونيول شي.

**اندازه ګيري ( اندازه اخيستنه، اندازه کول يا ميچ کول):** « هغه تولیز فعالیتونه چې د يو وګړي يا يو شي د ځانګړتياوو يا صفتونو اندازه په رقمي يا عددي لحاظ سره وټاکي اندازه کول بلل کیږي». مثلاً، د وګړو يا شيانو د فزيکي ځانګړتياوو (قد او وزن)

**سنجش:** آزمایلو او اندازه کولو ته نږدې یوه بله اصطلاح «سنجش یوه ټولیزه (کلي) اصطلاح ده». سنجش د اړتیا وړ اطلاعاتو د راټولولو لپاره هغه فعالیت دی چې پر اساس یې د زده کوونکو، درسي پروګرامونو اوښوونیزو پالیسیو په هکله ګټور تصامیم نیول کیږي.

**آزموینه:** «آزموینه د هغه منظم او کنټرول شوي عمل نه عبارت ده چې د وګړو د روزنیزو پرمختګونو د معلومولو لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي» (موسی خیل، ۱۹۸۸. ۲۶مخ).

# د ښوونیزې ارزونې تاریخي تکامل

په ښوونه او روزنه کې ارزونه په ناڅاپي ډول رامنځته شوې پدیده نه ده، بلکې د زرګونو کلونو د تجربو پایله ده. د بشري ټولنو د اړتیاوو او فکري بدلونونو له مخې د ارزونې مفکوره تل په تکامل کې وه.

د چین لرغونې ملکي ازموینې د منظم ارزونې لومړنی مثال دی، ۲۲۰۰ق م مینګ امپراتوري.

په لرغوني یونان کې د افلاطون او ارسطو د مناظرې او پوښتنو میتودونه.

په اسلامي تمدن کې هم د فارابي، امام غزالي او ابن خلدون په اثارو کې د ښوونې د اغېز او د انساني کړنو د محاسبې یادونې شته، چې د معاصرې ارزونې له مفاهیمو سره تړاو لري.

## ادامه .....

د ۱۷ او ۱۸ پېړیو په اروپا کې د ښوونیزو سیستمونو د پراختیا سره امتحاني بڼه عامه شوه. په ۱۹مه پېړۍ کې د ارزونې تمرکز پر دې وه چې زده‌کوونکي تدریس شوې محتوا زده کړې ده او که نه.
په ۱۹۰۵ کال کې فرانسوي ارواپوه الفرد بینه د ذکاوت لومړنۍ ازموینه رامنځته کړه، له ۱۹۳۰ وروسته د ښوونې او روزنې په برخه کې پراخ بدلونونه راغلل، په ۱۹۴۹ کال کې رالف ټایلر د زده کړې د موخو پر بنسټ د ارزونې ماډل وړاندې کړ.
په ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ کلونو کې د نوو تیوریو او موډلونو پراختیا وشوه.
په ۲۰ پېړۍ وروستیو او د ۲۱ پېړۍ په پیل کې ارزونې نړیواله بڼه غوره کړه.

# د ښوونيزې ارزونې ډولونه

د ګرولنډ. ان. اي (Grolund.N.E) په آند ارزونه په څلور ډوله سره ده.

**١. د سويې ارزونه (Placement Assessment):** د سويې ارزونه هغه ارزونه ده چې د يوه پروګرام په شروع کې صورت نيسي او په هغه پروګرام کې د داخليدو نه مخکې د زده کوونکي سويه او سلوک ( علمي اومهارتي کچه) معلوموي.

- د زده کړې په پيل کې د زده کوونکو د سويې، مهارتونو او معيارونو په تشخيص کې مرسته کوي.
- د زده کوونکو د چمتووالي سويه روښانه کوي.
- د اړونده موخو حدونه چې تر کومې کچې يې سرته رسولي راښايي.

## ۲. تشخيصي ارزونه (Diagnostic Assessment):

ددې ډول ارزونې څخه د تدريس او زده کړې دستونزو په تشخيص کې
ګټه اخيستل کيږي.
د تدريس او يا زده کړې د فزيکي اړخونو پورې اړونده ستونزو لکه
(ذهني، سلوکي، ټولنيزو، عاطفي او رواني اړخونو) په تشخيص کې
مرسته کوي.
د ځينو ستونزو د لاملونو په تشخيص کې هم مرسته کوي.
د ښوونکي سره دده دتدريس په ګټورتوب او اغيزمنتوب کې هم مرسته
کوي.

## ۳. بڼه ییزه، تکویني یا شکلي ارزونه؛ د زده کړې په جریان کې ارزونه

**(Formative Assessment):** دا ډول ارزونه د زده کړې په بهیر کې صورت نیسي.

- ښوونکي ته د تدریس د مؤثریت او په دوامداره توګه دده د کار د پایلو په هکله خبر ورکوي.
- زده کوونکو ته په دوامداره توګه د هغوی د پرمختګ او کار د پایلو په هکله خبر ورکوي.

## ۴. نهایي ارزونه (Summative Assessment):

دا ډول ارزونه د یوه ترتیب شوي پروګرام په اخر کې د لاسته راغلو موخو اندازه ټاکي.

- د زده کړې د سرته رسیدلو او لاسته راغلو موخو د اندازې په معلومولو کې مرسته کوي.
- زده کوونکو ته د راتلونکي ټولګي په ټاکلو او هغوی ته د بري لیکونو په ورکولو کې مرسته کوي.
- د زده کوونکو د بیلابیلو استعدادنو په تفکیک او ډلبندۍ کې مرسته کوي.

# د ارزونې مثبتې اغېزې

- **د زده‌کړې کیفیت ته وده ورکول:** ارزونه ښوونکو ته دا امکان برابروي چې خپل تدریس تحلیل کړي او زده‌کوونکي هم کولای شي خپل پرمختګ او ستونزې وپېژني.
- **زده‌کوونکو ته لوری او هدف ورکول:** په منظم ډول ارزونه زده‌کوونکي هڅوي چې له یو هدف سره مطالعه وکړي او خپل مهارتونه وده ورکړي.
- **د تعلیمي پالیسیو لارښوونه:** د ملي ازموینو نتایج دولت ته دا زمینه برابروي چې تعلیمي تصمیمونه د حقایقو پر بنسټ ونیسي.
- **د ښوونکو، نصاب او ښوونځیو ارزونه:** د زده‌کوونکو ارزونه په غیرمستقیم ډول د ښوونکو د تدریس، د نصاب اغېزمنتیا او د اداري کیفیت هم روښانه کوي.

# د ارزونې ننګونې او ستونزې

**د حافظه محور ارزونه:** اکثره ارزونې یوازې د یاد او تکرار پر بنسټ ولاړې دي. مفهومي، تحلیلي او مهارتي ارزونه په کې کمه ده.

**د ارزونې غیرمسلکي تطبیق:** ډېری ښوونکي د ارزونې میتودونه نه پېژني، د سوال جوړولو، نمرې ورکولو او تحلیل مهارتونه نه لري.

**درغلي او فساد:** په ښوونیزو ازموینو او سرتاسري امتحانونو کې نقل، سفارش او فساد د ارزونې اعتبار ته زیان رسوي.

**د بدیله ارزونې نشتون:** یوازې لیکلي ازموینې تر سره کېږي. بدیل میتودونه لکه پروژه‌محوره ارزونه، شفاهي ارزونه یا عملي تمرینونه نه کارېږي.

**د پایلو نه تحلیلېدل:** د ازموینو نتایج یوازې د نمرې لپاره کارېږي؛ له تحلیل او تعقیب پرته پاتې کېږي.

# د څېړنې میتودولوژي

**د څېړنې ډول:** دا څېړنه د هدف له پلوه تطبیقي او د میتود له مخې توصیفي ـ تحلیلي ده.
څېړنه د کمي (Quantitative) طریقې پر بنسټ ترسره شوې ده.
**د نمونې اخیستنې طریقه او اندازه:** په دې څېړنه کې د تصادفي نمونې اخیستنې (Random Sampling)له طریقې څخه کار اخیستل شوی دی. د نمونې ټولیز حجم د مورګان جدول پر اساس ټاکل شوی چې ټولټال ۶۸ تنه کېږي.

## د معلوماتو راټولولو وسیله

د معلوماتو د راټولولو لپاره یو معیاري پوښتنلیک کارول شوی، چې ۱۶ پوښتنې لري د لیکرټ پنځو مقیاس سره اندازه شوي چې په دوو اصلي متغیرونو د ارزونې اغېزې او د ارزونې ننګونې باندې ویشل شوی.

# د معلوماتو د تحلیل طریقه

په دې څېړنه کې راټول شوي معلومات د SPSS 26 احصائیوي سافټویر په وسیله تحلیل شوي دي. د تشریحي احصائیې لپاره Meanاو Standard Deviation ، او د استنباطي احصائیې لپاره Pearson Correlationکارول شوی دی.

**آماري ټولنه (Statistical Population) :** د دې څېړنې جامعه آماري له دوو اساسي ډلو څخه جوړه ده:

- د ننګرهار د ښوونکو د مسلکي ودې استادان.
- د جلال‌آباد ښار د استقلال عالي لیسې او شهید محمد عارف عالي لیسې یو شمېر ښوونکي.

دا جامعه آماري ځکه وټاکل شوه چې دواړه ډلې له ښوونیزې ارزونې سره مستقیم علمي اوعملي تړاو لري.

# د آماري ټولنې جدول (Statistical Population Table

| سلنه (%) | شمېر(N) | ګډونوال |
| --- | --- | --- |
| 26.5 % | 18 | د ننګرهار مسلکي ودې استادان |
| 73.5 % | 50 | د شهيد محمد عارف او استقلال ليسو ښوونکي |
| 100 % | 68 | ټول |

**د پوښتنليک اعتباري احصائيه (Reliability Statistics):** د کرونباخ الفا ضريب د ټول پوښتنليک لپاره 0.711 محاسبه شوی، چې د علمي څېړنو لپاره د منلو وړ کچه ده.

| Cronbach's Alpha | د پوښتنو شمېر | متغيرونه |
|---|---|---|
| 0.791 | 9 | د ارزونې اغېزې |
| 0.792 | 7 | د ارزونې ننګونې |
| 0.711 | 16 | ټولې پوښتنې |

## د ګډونوالو عمومي احصائیه

په دې څېړنه کې ټول ٦٨ تنه استادان او ښوونکي شامل وه. د ګډونوالو عمومي ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

### جنسیت

| جنسیت | تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| نارینه | 63 | 92.6% |
| ښځینه | 5 | 7.4% |
| ټولټال | 68 | 100% |

پورته جدول د جنسیت له مخې د ترسره شوې سروې پایلې څرګندوي. په دې سروې کې ټولټال ٦٨ ګډونوال شامل دي. د پایلو پر بنسټ، ٪۹۲,٦ ګډونوال نارینه او ٪۷,۴ ګډونوال ښځې دي.

# د ګډونوالو عمر

| د افرادو عمر | تعداد | سلنه ٪ |
|---|---|---|
| 25-20 کلونه | 6 | 8.8% |
| 35-26 کلونه | 32 | 47.1% |
| 50-36 کلونه | 28 | 41.2% |
| 50 کلونو زیات | 2 | 2.9% |
| ټولټال | 68 | 100.0% |

پورته جدول د سروې د ګډونوالو د عمر وېش څرګندوي، چې ټولټال ٦٨ ګډونوال پکې شامل دي. د پایلو له مخې، تر ټولو لوی عمر ګروپ د ٢٦–٣٥ کلونو ګډونوال دي چې ٪٤٧.٦ جوړوي چې دا د فعال مسلکي دورې عمر ګڼل کېږي. وروسته، د ٣٦–٥٠ کلونو عمر لرونکي ګډونوال د ٪٤١.٢ دویم مقام لري. همدارنګه، ٪٨.٨ ګډونوال د ٢٠–٢٥ کلونو عمر لري، په داسې حال کې چې تر ټولو کوچنی عمر ګروپ ٪٢.٩ هغه ګډونوال دي چې عمر یې له ٥٠ کلونو څخه زیات دی.

# تحصیل درجه

| د تحصیل درجه | تعداد | سلنه% |
|---|---|---|
| دولسم پاس | 2 | 2.9% |
| څوارلسم پاس | 2 | 2.9% |
| لیسانس | 19 | 27.9% |
| ماستر | 40 | 58.8% |
| دوکتور | 5 | 7.4% |
| ټولټال | 68 | 100% |

د جدول له مخې، د ٦٨ ګډونوالو له ډلې ډېری یې لوړې تحصیلي درجې لري. تر ټولو لوړه سلنه د ماسټر ده چې ٥٨.٨٪ جوړوي، ورپسې لیسانس له ٢٧.٩٪ سره راځي. همدارنګه، ٧.۴٪ د دوکتورا درجه لري،د دولسم او څوارلسم پاس ګډونوال هر یو ٢.٩٪ جوړوي. دا ښیي چې د څېړنې نمونه تر ډېره د لوړو زده‌کړو لرونکو کسانو څخه جوړه ده.

# کاري تجربه

| کاري تجربه | تعداد | سلنه% |
|---|---|---|
| 1-5 کاله | 12 | 17.6% |
| 5- 10کاله | 20 | 29.4% |
| 10- 20 کاله | 28 | 41.2% |
| له 20کلونو ډیر | 8 | 11.8% |
| ټولټال | 68 | 100% |

پورته جدول د کاري تجربې په اړه د ګډونوالو پایلې ښيي. د موندنو له مخې، ۴۱.۲٪ ګډونوال ۱۰–۲۰ کلونه کاري تجربه لري، ۲۹.۴٪ د ۵–۱۰ کلونو، او ۱۷.٦٪ د ۱–۵ کلونو تجربې لرونکي دي، په داسې حال کې چې ۱۱.۸٪ ګډونوال له ۲۰ کلونو څخه زیاته کاري تجربه لري. دا پایلې ښيي چې د سروې ډېری ګډونوال د منځنۍ تر لوړې کچې کاري تجربه لري.

# تړاو یا همبستګي (Correlations)

| Sig. (p) | Pearson r | N | متغیرونه |
|---|---|---|---|
| 0.609 | -0.063 | 68 | اغېزې او ننګوني |

**یادونه:** د پیرسن همبستګۍ تحلیل وښودله چې د ارزونې اغېزو او د ارزونې ننګونو ترمنځ کمزورې منفي اړیکه موجوده ده، خو دا اړیکه د احصایوي پلوه مانادراه نه ده $(r = -0.063)$، $(p = 0.609)$، $N = 68$).

# تشريحي احصائيه(Descriptive Statistics)

| متغیرونه | N | Minimum | Maximum | Mean | Std. Deviation |
|---|---|---|---|---|---|
| د ارزوني اغېزي | 68 | 28 | 45 | 40.85 | 3.09 |
| د ارزوني ننګوني | 68 | 10 | 32 | 19.51 | 4.96 |

پورته جدول د ارزوني اغېزي لوړه منځنۍ کچه (Mean = 40.85)او ټیټ معیاري انحراف (SD =3.09) ښیي چې ګډونوال د ارزوني اغېزي لوړې او نسبتاً یو شان ارزولي دي. برعکس، د ارزوني ننګوني منځنۍ کچه (Mean =19.51) او لوړ معیاري انحراف (SD = 4.96)ښرګندوي چې د دې متغیر په اړه د ګډونوالو نظرونه متفاوت دي. په ټوله کې ارزونه اغېزمنه ده، خو له ننګونو سره مخ ده.

# One-Sample Test (Test Value = 27)

| Mean Difference | Sig. (2-tailed) | df | t | متغیر |
|---|---|---|---|---|
| 13.85 | 0.000 | 68 | 29.41 | د ارزوني اغیزې |

د جدول پایلې ښیې چې د ارزوني اغېزې د فرضي منځنۍ کچې (27) څخه په احصائیوي ډول په مانادار‌ه توګه لوړې دي (p <0.05) دا څرګندوي چې ارزونه په ښوونیز نظام کې د پام وړ مثبت اغېز لري.

# One-Sample Statistics یو نمونه یي احصائیه

| Std. Error Mean | Std. Deviation | Mean | N | متغیرونه |
|---|---|---|---|---|
| 0.37 | 3.09 | 40.85 | 68 | د ارزونې اغېزې |
| 0.60 | 4.96 | 19.51 | 68 | د ارزونې ننګونې |

دا جدول د یو نمونې احصائیه راښایي چې د ارزونې اغېزې لوړه منځنۍ کچه (SE=0.37 ، Mean = 40.85)، ښيي چې ګډونوال ارزونه اغېزمنه ګڼي او د هغوی نظرونه نسبتاً ثابت دي. په مقابل کې، د ارزونې ننګونې منځنۍ کچه (Mean =19.51 , SE= 0.60)د نظرونو د نسبي توپیر څرګندونه کوي. په ټوله کې، پایلې د ارزونې اغېزمنتیا تأییدوي، خو د عملي ننګونو شتون هم ښيي.

# د ارزونې اغېزې(Effects of Assessment)

دا برخه د مقیاس پنځو Likert-scale پوښتنو پر تحلیل ولاړه ده. د ټولو اغېزو مجموعي احصائیه په26 SPSS سافټویر کې په لاندې ډول تحلیل شوې.

| Effects | | |
|---|---|---|
| N | Valid | 68 |
| | Missing | 0 |
| Mean | | 40.8529 |
| Median | | 41.0000 |
| Std. Deviation | | 3.09195 |
| Percentiles | 25 | 39.0000 |
| | 50 | 41.0000 |
| | 75 | 44.0000 |

دا شمېره د دې نښه ده چې د ګډونوالو په عمومي ډول نظرونه ډېر مثبت دي او د نظرونو تشتت کم دی.

# د ارزونې ننګونې(Challenges)

دا برخه د مقیاس پنځو Likert-scale پوښتنو پر تحلیل ولاړه ده. د ټولو ننګونو مجموعي احصائیه په SPSS 26 سافټویر کې په لاندې ډول تحلیل شوې.

| Challenges | | |
|---|---|---|
| N | Valid | 68 |
| | Missing | 0 |
| Mean | | 19.5147 |
| Median | | 19.5000 |
| Std. Deviation | | 4.96102 |
| Percentiles | 25 | 16.2500 |
| | 50 | 19.5000 |
| | 75 | 23.7500 |

دا تحلیل ښیي چې د ننګونو کچه له اوسط څخه لوړه ده او تشتت نسبتاً زیات دی، یعنې ستونزې په ټولو ښوونځیو کې یو شان نه دي.

## د څېړنې موندنې

د دې څېړنې موندنې په مستقیم ډول د ښوونیز نظام په چوکاټ کې د ارزونې پر اغېزو او ننګونو راڅرخي،چې مهمې موندنې یې په لاندې ډول دي:

1. ارزونه د ښوونیز نظام په کچه د زده‌کوونکو د پرمختګ، د ټولګي مدیریت او د نصاب د تطبیق د ارزولو لپاره یو مهم اداري او تعلیمي وسیله بلل کېږي.
2. د ارزونې د تطبیق په برخه کې تر ټولو سترې ننګونې د معیاري ارزونې د وسایلو نشتوالی، د ښوونکو د مسلکي روزنې کمښت، د ټولګیو زیات ازدحام او د وخت محدودیت دي.
3. احصائیوي پایلې ښیي سره له دې چې د ارزونې ننګونې د پام وړ دي، خو د ښوونکو له نظره دا ننګونې د ارزونې د اهمیت او اړتیا احساس په بشپړ ډول نه کموي، بلکې ستونزه تر ډېره د تطبیق په کچه ده، نه د ارزونې په اصل کې.
4. د ارزونې د اغېزو او ننګونو ترمنځ همبستګي ضعیفه او غیرمعنا لرونکې ده ($r = -0.063, p = 0.609$)، دا څرګندوي چې ننګونې په منظم ډول د ارزونې د سیستماتیک رول پر درک مستقیم اغېز نه لري.

# پایله

د دې څېړنې موندنې څرګندوي چې ارزونه په ښوونیز نظام کې یو بنسټیز تعلیمي او اداري عنصر دی، احصائیوي پایلې ښیي چې د ښوونکو له نظره ارزونه لوړ اغېز لري، خو د هغې عملي تطبیق د ګڼو ننګونو له امله محدود شوی دی. څېړنه دې پایلې ته رسېږي چې ارزونه په افغانستان کې لوړ بالقوه ظرفیت لري، خو د دې ظرفیت د فعالولو لپاره د تکویني او تشخیصي ارزونې پیاوړتیا، د ښوونکو دوامداره مسلکي روزنه، د ارزونې د معیارونو معیاري کول او د پایلو منظم تحلیل اړین دی.

# وړاندیزونه

- د پوهنې وزارت دې د ښوونکو لپاره د ارزونې په معاصرو میتودونو کې دوامداره مسلکي روزنیز پروګرامونه رامنځته کړي، په ځانګړي ډول د پوښتنو جوړولو، فیډبک ورکولو او د پایلو د تحلیل په برخه کې.

- د علومو اکاډمۍ دې د ښوونیزې ارزونې په برخه کې د معیاري اصطلاحاتو، مفاهیمو او علمي لارښودونو د تدوین او معیاري کولو چارې مخته یوسي.

# د پوښتنلیک ضمیمه

## پوښتنلیک

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د پوښتنلیک ګڼه عــــــــــــ

ګرانه ښاغلی! زه غواړم چې « **په ښوونیز نظام کې د ارزونې اغېزې او ننګونې**» تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړم. دا پوښتنلیک چې ما تاسو ته درلیږلی، د همدې څېړنیزې پروژې یوه برخه ده. مهرباني وکړئ پوښتنې په دقت سره ولولئ او خپل رښتیني ځوابونه ولیکئ. ستاسو ریښتیني ځوابونه به زما د څېړنې په پایلو کې ډېره مرسته وکړي. په پای کې تاسو ته ډاډ درکوم چې ستاسو ټول معلومات او ځوابونه به په بشپړ ډول محرم پاتې شي او یوازې به د څېړنې د علمي موخو لپاره ترې استفاده وشي. په درناوي

---

**عمومي معلومات**

۱) **جنسیت** : الف) نارینه ☐ ب) ښځینه ☐

۲) **عمر** : الف) ۲۰ تر ۲۵ کلونو ☐ ب) ۲٦ تر ۳۵ کلونو ☐ ج) ۳٦ تر ۵۰ ☐ د) له ۵۰ کلونو زیات ☐

۳) **تحصیل درجه:** الف: ۱۲پاس ☐ ب: ۱۴پاس ☐ ج: لسانس ☐ د: ماستر ☐ هـ: دوکتور ☐

۴) **د کاري تجربې موده:** الف) ۱ تر ۵ کلونو ☐ ب) ۵ تر ۱۰ کلونو ☐ ج) ۱۰ تر ۲۰ ☐ د) له ۲۰ کلونو زیات ☐

| ګڼ | مهرباني وکړئ لاندې پوښتنو ته په غور سره ځواب ووایاست. | ډېر موافق یم | موافق یم | نظر نه لرم | مخالف یم | ډېر مخالف یم |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | **د ارزونې اغېزې** | | | | | |
| ۱ | ارزونه د زده‌کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم رول لري. | | | | | |
| ۲ | ارزونه د زده‌کوونکو د هڅونې او زده‌کړې د دوام سبب کېږي. | | | | | |
| ۳ | ارزونه د ښوونکو د تدریس په کیفیت مثبته اغېزه لري. | | | | | |
| ۴ | د ارزونې پایلې د ښوونیز نصاب د اصلاح لپاره کارېدلی شي. | | | | | |
| ۵ | د ارزونې بهیر د زده‌کوونکو د ضعیفو او قوي ټکو په تشخیص کې مرسته کوي. | | | | | |
| ٦ | ارزونه د ښوونې او روزنې د عمومي موخو په تحقق کې مرسته کوي. | | | | | |
| ۷ | ارزونه د زده کوونکو او ښوونکو د مسؤولیت منلو سبب کېږي. | | | | | |
| ۸ | ارزونه د ښوونیز نظام د ضعف او قوت ټکي مشخص کوي. | | | | | |
| ۹ | ارزونه په ښوونیز نظام کې د روڼتیا او عدالت سبب کېږي. | | | | | |
| | **د ارزونې ننګونې** | | | | | |
| ۱۰ | د اوسني ارزونې بهیر د تحلیل او منطقي فکر پر بنسټ نه دی جوړ شوی | | | | | |
| ۱۱ | د ارزونې بهیر د ټولو زده کوونکو سره تل عادلانه چلند نه کوي | | | | | |
| ۱۲ | د ښوونیز نظام د ارزونې وسایل او میتودونه د زده کړې حقیقي معیارونه نه منعکسوي | | | | | |
| ۱۳ | د ارزونې پایلې د ښوونیز نصاب د اصلاح لپاره اغېزناکې نه دي | | | | | |
| ۱۴ | د ارزونې معیارونه د زده کوونکو واقعي کچې سره مطابقت نه لري. | | | | | |
| ۱۵ | د ارزونې پایلې تل روښانه او واضح نه دي. | | | | | |
| ۱٦ | د ښوونکو د ارزونې مسلکي مهارتونه د کیفیت ډاډ لپاره کافي نه دي. | | | | | |

ستاسو د ونډې اخیستنې څخه مننه!!

# مآخذونه

الهام، محمدرحیم. ۱۳۷۴ل. د ښوونکي عمومي لارښود، د افغانستان لپاره د سويډن کميټه.
سيف، ډاکتر علي اکبر. ۱۳۸۷ل. اندازه ګيري، سنجش وارزشيابي آموزشي، خيابان فخررازي، ويرايش پنجم، تهران.
د ښوونکو د روزنې لوی رياست. ۱۳۸۸ل. د ښوونکو لپاره د لوستنې مواد، انسټ ۱ دريم چاپ کابل.
ميچل، ډاکتر ايډنا او سوسن وردګ.۱۳۹۵ل د ښوونکي تفکري ښوونې. شپږم داخل خدمت روزنيز پروګرام. کابل.

Bloom, B. S. (1956). Taxonomy of Educational Objectives: The Classification of Educational Goals. Handbook I: Cognitive Domain. New York: David McKay Company.

Gronlund, N. E. (2006). Assessment of Student Achievement (8th ed.). Boston: Pearson Education.

Nitko, A. J. (2001). Educational Assessment of Students (3rd ed.). Upper Saddle River, NJ: Merrill Prentice Hall.

Tyler, R. W. (1949). Basic Principles of Curriculum and Instruction.Chicago: University of Chicago Press.

# له پاملرنې مو نړۍ مننه!

